AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نورمحمد لاهو
۲۰۲۶/۰۴/۰۳

# جادوګره نیشه

کړکۍ خلاصه کړه!
چې د بدن نازنین عطر دې
لکه پوست او خوږ شمال
د سرو ګلونو منځ ته ورشي
خو هر کل ته
هیره شوې خوشبویي بیا ور په یاد کړي
او
د زاړه ښار!
په تورو تورو دیوالونو
تکه سپینه
او شیرینه رڼا پریوزي
د زمان په وینو لیت لاسونه
لا هم د سرو منو په پلمه ګرځي
چې د الوبالو
له یخ وهلي باغه
زاړه زخمونه وشکوي
کړکۍ خلاصه کړه!
چې ستا د سترګو جادوګره نیشه
دې زخمي او ویده شوي ښار ته
ژوندکې او خوشالي وروښیي
او د باغ!
له وچ ذهنه څخه
د سرو وینو تصویر هیر شي




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ